Deputy PM for Economic Affairs Office
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

ګڼه: ۸
نېټه: ۱۴۰۳/۱۱/۶



د افغانستان د اقتصادي پرمختګ (خبر پاڼه) د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت نوښت دی چې د افغانستان تر ټولو مهم او وروستي اقتصادي پرمختګونه منعکسوي.

د دې خبر پاڼې په لوستلو سره چې په درېيو ژبو (پښتو، دري، انګليسي) چمتو او خپرېږي، تاسو کولی شئ د افغانستان د وروستيو اقتصادي پرمختګونو څخه خبر شئ.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د صنعتي ساحو د قانون اهميت

۲- راستنېدونکو صنعت‌کارانو او سوداګرو ته ورکړل شويو امتيازاتو او اسانتياوو ته لنډه کتنه

۳- ملي تدارکاتو کمېسيون کې د شاوخوا درې ميليارد افغانيو په ارزښت د يو شمېر پروژو منظوري

# د صنعتي ساحو د قانون اهمیت



د صنعتي ساحو قانون د عالیقدر امیر المؤمنین شیخ صاحب حفظه الله تعالی له لوري په یوه مقدمه، شپږو بابونو، ۱۱ فصلونو او ٦٧ مادو کې په ١٤٤٦/١/٢٨ نېټه توشیح شوی دی.

د دغه قانون د جوړېدو موخه د صنعتي ساحو د تنظیم له لارې د افغانستان اقتصاد ته وده او پرمختیا ورکول دي. د خصوصي پانګونې د جلب او جذب له پاره د زمینې برابرول او د صنعتي ساحو مدیریت، ساتنه او مراقبت ته زمینه برابرول د یاد قانون نورې موخې دي.

په قانون کې امارتي ساحه، دهغې خارنه او مدیریت او د ټاکل شوي هیئت ترکیب، دندې او واکونه واضح شوي دي. په دې قانون کې د امارتي، خصوصي او مشارکتي ساحو د جوړولو، پراختیا، څارنې او یادو ساحو ته د ځمکې بېلولو او د صنعتي ساحو جوړولو له پاره غوښتونکو ته د ځمکو د وېشلو شرطونه ذکر شوي دي. په قانون کې صنعتکاران مکلف شوي چې د چاپېریال ساتنې او کار اړوند حکمونه او نور تقنیني سندونه پام کې ونیسي او په غېر ټاکل شویو سیمو کې د تولیدي او صنعتي واحدونو کثافات او اضافي مواد و نه غورځوي.

د صنعتي ساحو له پاره د یو قانون جوړولو ته ډېره اړتیا لیدل کېده. له دې قانون سره صنعتي ساحې او په کې ترسره کېدونکي فعالیتونه یو چوکاټ ته ننوځي او د اصولو تابع ګرځي.

قانون په یو هېواد کې د خلکو د هوساینې او د ټولنې د پرمختګ له پاره جوړېږي. د صنعتي ساحو له پاره جوړ شوي قانون سره به په هېواد کې صنعت پرمختګ وکړي. د کار نوي فرصتونه به ایجاد او د بې کارۍ کچه به ورسره راکمه شي او د چاپېریال خوندیتوب کې به مهم رول ولوبوي.

دغه راز، د دغه قانون په پلي کېدو سره به په هېواد کې پانګونه لا منظمه او جذب شي.

# راستنېدونکو صنعتکارانو او سوداګرو ته ورکړل شویو امتیازاتو او اسانتیاوو ته لنډه کتنه



اسلامي امارت په هېواد کې د صنعت ودې ته ژمن دی او غواړي چې بهر کې مېشت افغان صنعتکاران او پانګوال هېواد ته راشي او د هېواد په اقتصادي وده کې خپل مسوولیت اداء کړي. په همدې اساس د امیر المؤمنین شیخ صاحب حفظه الله په حکم "د راستنېدونکو صنعتکارانو او سوداګرو د امتیازونو او اسانتیاوو د تنظیمولو طرزالعمل" جوړ شو چې په کې هېواد ته راستنېدونکو صنعت کارانو او سوداګرو ته ګڼ امتیازات او اسانتیاوې په پام کې نیول شوي دي.

په طرزالعمل کې د لوړې او منځنۍ کچې راستنېدونکو صنعتکارانو او سوداګرو ته یو امتیاز دا ورکړل شوی چې د کارکوونکو له مالیې پرته نورې مالیې د پینځو کلونو له پاره معاف دي. دغه راز، صنعتکارانو او سوداګرو ته د دوی په وارداتو ماشین الاتو او وسایلو باندې ګمرکي محصول هم معاف شوی دی.

صنعتکارانو او سوداګرو ته له ګمرکي مالیې پرته د افغانستان لاس د دوو شخصي موټرو د راوستلو اجازه ورکړل شوې او که چېرې هغوی

وغواړي چې بهرني انجنیران او مسلکي کسان افغانستان ته راولي، نو دوه کلني ویزې به هم ورکول شي.

په نوي ښار (ده سبز) او نورو امارتي ښارګوټو کې د یوې نمرې ورکړه او لازم بانکي سهولتونه او معدني او زراعتي ځمکو ته لاسرسی نور هغه امتیازات او اسانتیاوې دي چې هېواد ته راستنېدونکو صنعت‌کارانو او سوداګرو ته په نظر کې نیول شوي دي.

بهر کې مېشت افغان صنعت‌کاران او سوداګر دې له دې فرصت څخه ګټه واخلي او خپل صنعتونه او سوداګرۍ دې د هېواد د اقتصادي ودې او بې‌کارۍ کچې کمولو له پاره افغانستان ته راولېږدوي. افغان ولس چې اشغال سخت ځپلی او له اقتصادي ستونزو سره مخ دی، اوس چې جګړه نشته نو د خدمت له پاره ښه موقع ورته برابره شوې ده. دا یوازې د اسلامي امارت مسوولیت نه دی، بلکې ټول بهر مېشت او په کور دننه شتمنو افغانانو باندې ولس حق لري چې د سوکالۍ له پاره یې کار وکړي.

# ملي تدارکاتو کمېسیون کې د شاوخوا درې میلیارد افغانیو په ارزښت د یو شمېر پروژو منظوري



د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي ناسته د ۱۴۰۳ کال د مرغومي په ۲۲مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه.

په ناسته کې ۳۲ پروژې د بحث له پاره وړاندې شوې چې له دې یې د ۱۷ پروژو قراردادونه منظور، د نهو تعدیل او دوه پروژې د تدارکاتي ستونزو له امله رد شوې. د یادو دوه پروژو په اړه مسوولینو ته سپارښتنه وشوه چې د تدارکاتي پروسې له اصولو سره سم دغه پروژې بیا ازادې داوطلبۍ ته وړاندې کړي.

د څلورو نورو پروژو د قراردادونو د قېمتونو په اړه ټاکل شوې کمېټو ته دنده وسپارل شوه چې له ګټوونکو شرکتونو سره خبرې وکړي او راپور یې د کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي.

د کمېسیون په دې ناسته کې یو لړ مهمې پروژې منظور شوې. د بېلګې په ډول د کابل ولایت په ارغندی، د هرات ولایت په ګذرې ولسوالۍ او د بدخشان په فیض اباد کې د درې ترمینلونو جوړېدل منظور شول.

د ارغندي د موټرو ترمینل په ۹۱۴ جریبه ځمکه، د ګذرې ولسوالۍ ټرمینل په ۷۳۴ جریبه ځمکه او د فیض اباد ټرمینل په ۲۰ جریبه ځمکه جوړېږي.

په دغو درېیو ترمینلونو ۱٫۵ میلیارد افغانۍ لګښت راځي. یاد ترمینلونه د سلګونو موټرو د ځایېدو ظرفیت لري چې له امله به یې مسافرو او بار وړونکو موټرو ته اسانتیاوې رامنځته شي. د هېوادوالو د وخت ضایع کېدو مخه به ونیسي. ترمینلونه عصري اسانتیاوې لري. د ټکټونو ځای پر ځای اخیستل او په یو ځای کې د ډېرو خدماتو وړاندې کولو سره خلک له ډېرو ستونزو خلاصېږي. د دغو ترمینلونو په جوړېدو سره به سلګونه تنه هېوادوالو ته د کار زمینه هم برابره شي.

اوسمهال په افغانستان کې عصري او په خدماتو سمبال ترمینلونه نشته. اسلامي امارت په ټرانسپورټي برخه کې د نظم د رامنځته کېدو په موخه د یادو ترمینلونو د جوړېدو پرېکړه وکړه.

په کمېسیون کې په نورو منظور شویو پروژو کې د اقیني-اندخوی او تور غونډۍ اوسپنې پټلۍ پروژو ترمیم، کندهار، هلمند او فراه ولایتونو کې د نوري فایبر لین غځول او یو شمېر نورې پروژې شاملې دي.